درود دې وي په سرورې کاینات حضرت محمد مصطفئ
ص الله علیه وسلم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## دې وي زما ټولګي والې ته ............

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

١. سريزه ........................................................................ - ١ -
٢. امام مهدي به كله راځي؟........................................................... ٢
٣. د دجال راتلل ......................................................................... ٣
٤. د جوج ماجوج راتلل؟................................................................. ٥
٥. د قيامت ورځ ......................................................................... ٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سريزه

د دجال فتنه او د جوج ماجوج راتلل په ډېرو رواياتو کې راغلي نبي کريم ص هم فرمايي چې دجال کافر به راپيدا کېږي مسلمانان به گمراه کوي دا به د خدايي دعوه کوي ځينې مسلمانان به گمراه کوي دجال به د امام مهدي (ع السلام) په وخت کې راځي چې بيا د حضرت عيسى ع السلام لخوا حلاکېږي بيا د جوج ماجوج راتلل کوم چې د الله ج په قدرت د سکندر ذولقرنين لخوا د يو ديوال شاته بندي کړي دي مولانا صيب محمد ادريس له قوله ما هر څه راواخيست چې کېداى سي ځينې مسلمانان پوه شي چې دجال څوک ده او جوج ماجوج څوک دي او څه کوي بيا د قيامت ورځ څنگه راځي او بيا څه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## امام مهدي به کله راځي؟

نبي کريم ص الله عليه وسلم فرمايي د ځمکې په سر به د يهودو او عيسويانو حکومت ډېرېږي او ځوک چې مسلمان وي هغه به له منځه وړي هغه بوس مسلمان نه قوي او مذبوت مسلمان هغه په نوم او د يهودو اوعيسويانو ملګري چې په نوم مسلمان دي هغه به د ځمکې په سر ډېر وي او په هغه د الله پاک هېڅ نوع نظر نه وي کله چې د ځمکې په سر د يهودو او عيسويانو شريکه حکومت ډېر شي نو د مدينې خواته يو کلی ده په نوم دې خيبر هلته به د يهودو او عيسويانو حکومت ورسي نو هلته به يو نيک سړی راپيدا شي او مسلمانان به سره راټول کړي او دا به وايي چې موږ به اوس څه چل کو يهوديان او عيسويان خو دې پاکې خاورې ته راورسېدل نو دغه نيک سړی ويل کېږئ مهدي وي چې حضرت محمد مصطفئ ص الله عليه وسلم فرمايي چې د دغه سړي شکل به زما په څېر وي او د ده نوم به هم محمد وي او د پلار نوم به يې عبدالله وي او د مور نوم به يې هم بي بي امينه وي خوئ به يې هم زما په څېر وي ډېر يو عالم او مذبوت انسان وي نو خلک وايي چې دا به خپل مشر يا پادشاه وګرزو هغه چې له مدينې مکې ته راتښتي چې ما پادشاه نه کړي نو کله چې مکې مکرمې ته راځي نو طواف به کوي خو نبي ع وسلم فرمايي چې ډېر خلک به د مهدي دعوه کوي چې زه يم خو نخه يې دا وي چې نوم به يې محمد وي د پلار نوم به يې عبدالله وي او د مور نوم به يې بي بي امينه وي او کله چې دا مکې کې وي نو هلته د شام او نورو ځايو نيکان او مسلمانان راغلي وي او په دې فکر کې به وي چې ځان له يو مشر تعينه ول پکار دي خو ناګاهان په مهدي يې نظر لږېږي خو هلک ورته د ده صفت کوي چې يو نيک او بزرګ انسان ده مدينې منورې نه مکې مکرمې ته د حج لپاره راغلی ده خو مهدي به د مقام ابراهيم منځ کې خلک راونيسي او ورته به وايي چې تانه بغير موږ بل مشر نه منو ته زموږ مشر شه نو همدلته ورسره بيعت کوي نو د مسلمانانو خليفه شي نبي کريم ص ع وسلم د مهدي څلور نخې خودلې دي چې کله مهدي د مسلمانانو مشر کېږي نو دا به د روژې مياشت وي دويمه نخه نو په دغه مياشت يعنې روژه کې به سپوږمی تندر نيسي درېيمه نخه په همدغه روژه کې به د پنځلسمه روژه لمر هم تندر نيسي څلورمه نخه يې دا ده چې کله دا خليفه وټاکل شي نو له اسمان نه به غيبي غږ وشي (د ده خبره ومنئ او د ده تابع داري وکړئ دا دې الله خليفه ده : ترجمه:) امام مهدي به بيا دا وينا وکړي چې تاسو خو زه خپل مشر خليفه وټاکلم خو نن زه جهاد شروع کوم له عيسويانو سره که راسره ملګرتيا کوئ ښه تر ښه کنه زه نه کوم خلافت خلک به ورسره بيعت وکي چې موږ ستا ملګري يو او ستا تر شاه ولاړ يو جهاد به شروع کړي او الله پاک به د همدو په واسطه عيسويانو ته شکست ورکوي تر شام به جهاد راورسي له مکې تر مدينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تر شامه به دوئ دا ځایونه فتح کړي او چې څومره عیسویان او یهودیان وي دا به ختمه وي کله چې شام ته امام مهدي رارسیږي نو دلته به د دروغ اوازې شروع شي چې دجال راپیدا شوی امام مهدي به وایي چې اوس خو د ده مقابله پکارده نو تیاری ورته نیسي خو هغه خبر به دروغ وي دا فایده به مسلمانانو ته ورسیږي چې د دجال په مقابل کې تیاری ونیسي خو امام مهدي به نهه کاله پادشاهي وکې داسې پادشاهي لکه د عمر رض عنه په شان عدل او انصاف به وي خلک به زکات ورکوي خو څوک به زکات اخیستو نه وي هغو به خپله هیران وي چې زکات چاته ورکړي خوشحالي او عدل انصاف به وي فصلونه به را زغونه کیږي او د رحمت بارانونه به کیږي وروسته له نهه کالو به واقعي او په ربښتیا دجال راشي.

**( د مولانا صیب محمد ادریس له وینا څخه)**

## د دجال راتلل

کله چې دجال راوځي نو څلویښت ورځې به په ټوله نړۍ وګرزي بغیر له مکې او مدینې چې ورته طیبه هو وایي. اوله ورځ به یې د یو کال په څیر وي دوهمه ورځ به یې د میاشت په څیر وي او دریيمه ورځ به یې د هفتې په څیر وي نورې ورځې به یې د عادي دا نورو ورځو په شان وي داجال به دې خدایئ دعوه کوې چې زه خدای یمه او دجال سره به ډېر مال او دولت وي چې کله یو قوم ته ورشي ورته به وایي ما ومنۍ زه ستاسو خدای یمه هغه قوم به ورته وایي چې ته خو زموږ خدای نه یې دجال به باران ته امر وکي چې ونشي نو باران به نه کیږي ځمکي ته به وایي فصلونه وچ کړه فصلونه به وچ شي چینو او خوړونو کې به اوبه بندې شي نو دجال به روان شي نبی کریم ص ع الله وسلم فرمایي له کوم قوم سره چې مال دولت وي نو دجال پسې به روان شي او خلک به همداسې پاتې شي له ولږې او تندې به سخت زوریږي بیا به دجال راشي وبه وایي چې ایا ما خپل خدای ګڼۍ که نه مال او دولت چې ورکوي هغه خدای وي نو ما تاسو نه مال دولت واخیستو نو که ما خپل خدای ګڼۍ نو تاسو ته به زه دولت مال بیا درکړم نو هغه قوم به ایمان راوړي چې ته زموږ خدای یې زموږ مال او دولت راکه نو په دجال به ایمان راوړي دجال به باران هم شروع کړي فصلونه به هم شنه کړي او خوړونه به هم روان کړي نبي کریم ص ع الله وسلم فرمایي چې د ځمکې څومره سره زر وي دا به دې جال په لاس کې وي بیا به بل قوم ته ورشي وبه وایي ایا تاسو ما خپل خدای منۍ هغه قوم به ووایي چې نه موږ تا خپل خدای نه منو نو دجال به ورته ووایي که زه ستاسو پلاران او نیکه ګان راژوندي کړم نو تاسو ایمان راوړی خلک به ورته ووایي هو نو قبرونو ته به ولاړ شي نو نبي کریم ص الله ع وسلم فرمایي چې شیطانان به د هغو په شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووزي نو خلک به هيران شي چې دا خو راژوندي شو نو په دجال به ايمان راوړي نو نبي کريم ص الله ع وسلم فرمايي د دجال به ښي سترګه ړوند وي نو الله پاک خو ړوند نده له هر څه پاک ده په الله پاک کې هېڅ عيب نشته نو دجال کې عيب ده د دجال سترګه به داسې ړنده وي لکه شين انګور خو دجال به هغه سوچه مسلمان پېژني نه په نوم مسلمان د دجال په تندي به نوشته وي کافر بيا به بل قوم ته ورشي په هغه قوم به افت راغلی وي حيوانات به يې له منځه تللي وي نو دجال به ورته ووايي چې ولې خفه ياست هغو ورته وايي په موږ افت راغلو او هر څه مو له لاسه ورکړل نو دجال به ورته ووايي که زه ستاسو حيونات راژوندي کړم نو تاسو ما خپل خدای ګڼئ هغه قوم به ورته وايي هو دجال به ټول راژوندي کړي نو هغئ به پرې ايمان راوړي نو امام مهدی به الله پاک ته دعا وکې چې يا خدايه ما خو جهاد وکه او خلک مې له ګمراهی نی نه وژغورل نو دا خو دجال بېرته بې لارې او ګمراه کړل نو الله ج به حضرت عيسی ع السلام ځمکې ته راښکته کړي د دو فرشتو په وزرو به يې لاسونه ينبي وي بيعت المقدس د دو منارو په منځ کې به راښکته شي او دا سر به يې داسې لوند وي چې کله ښکته کړي څاڅکي به ترې توېږي لکه د ملغلرو او چې کله يې پورته کړي د مرجانو او ملغلرې څاڅکي به تر زوړند وي عيسی ع السلام له به خدای داسې قوت ورکړي وي چې ساه راوباسي نو په همدغې ساه راويستو چې په کوم به لږي وژل کېږي به ساه به يې دومره لرې ورځي چې د ده سترګې تر کومه ځايه نظر کوي نو عيسی ع السلام به له امام مهدي سره يوځی شي او يو خينزير به حلال کړي او عيسی ع السلام به صليب مات کړي امام مهدي ته به ووايي چې لښکر دې راټول کړه چې د دجال مقابلې ته ورشو نو دجال چې کله راپيدا کړي دجال به حضرت عيسی ع السلام په نيزه ووهي او له منځه به يې يوسي نو حضرت عيسی ع السلام به د ځمکې په سر يو ځل بيا عدل انصاف راولي او فقر به ورک کړي مولانا صيب ادريس وايي چې نبي کريم ص ع السلام فرمايي چې يو انار به دومره لوئ وي چې سلګونه خلک به هغه خوري خو خلاصېږي به نه او د يو انار پوستکی به دومره غټ وي چې خلک به يې سيوري لاندې ناست وي او يوه وزه به د يو قوم لپاره شيدې ورکوي او هغه به بس وي يوه غوا به د يوې قبيلې لپاره شيدې ورکوي او يوه اوښه به د يوې کلي لپاره کافي وي ځمکه به زرغونه وي او مېوې به ډېرې وي مسلمانان به ډېر خوشحاله وي .

**(د مولانا صيب محمد ادريس له وينا څخه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جوج ماجوج راتلل؟

الله پاک عیسی ع السلام ته فرمايي چې خلک د تور غره ته يوسه او زه يو قوم راخوشي کوم چې نوم يې جوج ماجوج ده له هغو سره د جنګ کولو هېڅوک توان او قدرت نه لري نو عيسی ع السلام به خلک د تور غره ته يوسي او الله پاک به جوج ماجوج راخواره کړي جوج ماجوج سکندر ذولقرنين د الله پاک په زور يو ځای کې بندي کړي وي دوئ تر مازديګره هغه ديوال کې سوری پيدا کوي بيا وايي چې زه سوری مو راپيدا کړو نو نور به سبا ته وکړو نو چې کله سبا شي هغه سوری الله پاک بند کړی نو چې کله د دوئ د راوتو وخت پوره شي ديوال کې سوری کوي وايي انشاالله نور به سبا وکړو نو الله پاک سوری نه بندوي ځکه انشاالله وايي نو جوج ماجوج راوځي چې کله راوځي نو دومره تګي به وي چې د درياب اوبه به څکي او ختمه وي به يې نور چې روسته راځي اوبه نه وي نو دوئ په انسانانو حمله کوي په هغه انسانانو چې ايمان نه لري کافر وي مسلمانان خو د تور په غره کې عيسی ع السلام پټ کړي وي ورسته بيا په حيواناتو حمله کوي حيوانات هم له منځه وړي بيا وايي چې نور خو څه نشته راځی خدای سره جنګ وکو غشي چې کله اسمان خواته واروي نو چې کله راغورزيږي هغه الله پاک له وينو سره کړي راغورزوي نو بيا به وايي چې د اسمان مخلوق مو هم مړه کړل نو د تور په غره کې به مسلمانان سخت په تکليف وي نو عيسی ع السلام به دعا وکي چې خدايه دا قوم حلاک کړي نو الله پاک به د جوج ماجوج په قوم مرض ولګوي او ټول به له منځه يوسي بيا به عيسی ع السلام ته الله پاک وفرمايي راځه د جوج ماجوج قوم خلاک شو چې کله مسلمانان بهر راوزي نو د جوج ماجوج د قوم د مړو داسې بوی وي چې څوک حتی تنفس نشي کوی هر ځای به جوج ماجوج وي نو الله پاک به داسې مرغان راپيدا کړي دوئ اخلي او درياب ته يې غورزه وي بيا به خدای پاک باران وکي او باران سره به ځمکه يو ځل بيا پاکه سي د جوج ماجوج د غيشو او ليندو باندې به مسلمانان اور بلوي بيا به د عدل او انصاف حکومت شروع شي بيا وروسته وروسته بيا به مسلمانان ګمراه کيږي او کمېږي به داسې وخت به راشي چې د ځمکې په مخ به يو مسلمان هم نه وي چې کوم مسلمان وي نو الله پاک به يو نوع هوا خوره وي او مسلمان به هغه هوا له منځه وړي او ټوله دنيا به له کافرو ډکه شي.

**(د مولانا صيب محمد ادريس له وينا څخه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قیامت ورځ

نو دغه وخت به الله پاک لمر له مغربه نه مشرق خواته راپورته کړي او اسرافیل ع السلام به سهار د لمر ختو نه مخکې خپله شپېلۍ ووهي او له دغې شپېلۍ سره سم به له ټولو انسانانو روحونه به له بدنه ووزي هغه چې مړه هم دي د ټولو روحونه به د اسرافیل ع السلام په شپېلۍ کې ننوزي خوشحالي غم او عذابونه بندېږي اسمان به ټوټې ټوټې شي ځمکه به داسې والوزي لکه د مالوچ په شان غرونه لمر سپوږمۍ هر څه به ختم شي هر څه به ختم شي بیا به الله پاک ټول مخلوق راژوندي کړي د شام په ځمکه دا ځمکه به الله پاک بیا راجوړه کړي نو بیا به اسرافیل ع السلام چې کله بیا شپېلۍ ووهي چې څومره روحونه وي دا به هغه خپل وجودو ته ورننوزي او خلک به راژوندي شي د سوال او ځواب لپاره بیا به الله پاک له انسان سره حساب کتاب کوي.

**(د مولانا صیب محمد ادریس له وینا څخه)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**